# امربالمعروف نه ټولنه منحصروي او نه له خلکو څخه ورکړل شوي حقوق اخلي

۲۷ ذوالحجه ۱۴۴۳ هـ.ق

د پکتیاولایت د امربالمعروف مسؤلینو خلکو سره په ناستو کې ویلي چې امربالمعروف نه ټولنه منحصروي او نه له خلکو څخه دهغوی ورکړل شوي حقوق اخلي بلکې دوی هره کړنه او بندیز د ټولنې د اصـــلاح او د منکراتو د مخنیوي له پاره ده. دوی د دې ولایت د مرکز ګردېز سربېره په ځینو ولسوالیو کې عامو او دولتي خلکو ته اصلاحي بیانونه وکړل او هغوی ته یې د امربالمعروف وزارت فرمانونه واورول او دوی یې د ټولنې سمون ته متوجه کړل.

محتسبینو د دې ولایت د مرکز په شمول په ځاځي اریوب، احمد خېل، ځدراڼ مېشتې او زرمت ولســوالی. له اوسېدونکو سره په ناستو کې هغوی ته وویل: د امر بالمعروف وزارت لخوا په ځینو کارونو بندیزونه د ټولنې د اصلاح او د منکراتو د مخنیوي په پار لګول کېږي نه د خلکو د اســارت او بندي توب په خاطر "هغوی وویل زموږ هڅه همداده چې په ټولنه کې د منکراتو مخه ونیسو او د ټولنې خلک ارام او هوسا ژوندو کړي.

په ورته وخت کې د دې ولایت د یادو ولسوالیو محتسبینو له دولتي کارمندانو وغوښتل چې ورسپارل سوي میؤلیتونه په شفاف ډول سر ته ورسوي تر څو دخلکو مشـــکلاتو ته پر وخت رسیدګي وشي او ولس ته په ورکړل شویو وعدو کـې ریښتیني واوسو .

هغوی همدارنګه د ســـیمې پر خلکو غږوکړ چې د نظام ملاتړ وکړي او د دې وزارت لایحې او فرامین پر ځان او ټولنه تطبیق کړي. خلکو ورته د هر ډول مرســـتې ډاډ ورکړ او د امربالمعروف له فعالیتونو یې خوښي څرګنده کړه.